BOST UNIVERSITY

بُست پوهنتون

# بُــســت

## علمي او څېړنيزه مجله


ټوک : دريم

ګڼه : دوهمه

کال : ۱۴۰۳

بسم الله الرحمن الرحيم

# بُست علمي او څېړنيزه مجله

**بُست پوهنتون**

**دريم ټوک – دوهمه ګڼه**

**کال – ۱۴۰۳**

# بُست علمی او څېړنیزه مجله
## بُست پوهنتون


**د امتیاز خاوند:** بُست پوهنتون

**مسئول مدیر:** ډاکټر ذبیح الله انوري

**سردبیران:** پوهندوی دوکتور علي احمد احمدي او خان محمد وفا

**د مجلې بورډ**

- ✓ پوهندوی دوکتور عبدالوهاب حکمت
- ✓ پوهندوی عبدالعزیز صابر
- ✓ پوهنمل حنیف الله باوري
- ✓ پوهاند دوکتور خال محمد احمدزی
- ✓ پوهندوی رضوان الله مملوال
- ✓ ارسلان وطندار
- ✓ پوهنیار بشیر احمد بابازوی

**کتنپلاوي**

- ✓ پوهنوال دوکتور احمد جاوید پویش
- ✓ پوهنوال نقیب الله مجددي
- ✓ پوهندوی دوکتور نجیب الله مجددي
- ✓ پوهندوی دوکتور علی احمد
- ✓ پوهندوی دوکتور غلام رسول فضلي
- ✓ پوهندوی نیاز محمد زاهدي
- ✓ پوهندوی ګل محمد اعظمي
- ✓ پوهندوی عبدالولي هجران
- ✓ پوهنیار عبدالولي همت
- ✓ خان محمد وفا
- ✓ ډاکټر ذبیح الله انوري



**ډیزاین:** د بُست پوهنتون د څېړنیزو او فرهنګي چارو مدیریت

د خپرولو کال: ۱۴۰۳

**درک:** بُست پوهنتون، لښکرګاه، هلمند، افغانستان

## د بُست پوهنتون د رئیس پیغام

په نني ژوند کې د يوې علمي مؤسسې يو له مسؤليتونو څخه دا دی ، چې نه يواځې خپل محصلان د پوهې په ګاڼه سمبال کړي، بلکې د پوهنتون د لوړو زده کړو لرونکو پوهانو او استادانو د علمي زيرمتون څخه داسې څه وخت په وخت راوباسي، چې د ټولني د ژوند د اړتياوو د پوره کولو لپاره او يا لږ تر لږه د ټولنې د لوستي قشر د خبرولو او که وکولای شي له هغوی څخه د عمل په ډګر کې د ګټې اخيستنې په موخه ، په کار واچول شي.

و دې موخې ته د رسيدلو لپاره پوهنتون بايد يو داسې علمي خپرندويه ارګان ولري، چې په هغه کې د پوهنتون ټول با صلاحيته منسوبين که هغه استاد وي، که کارکوونکی او که زده کړه يال ، خپلې علمي او څېړنيزي مقالې او ليکنې د کاغذ پر مخ باندې کښيښودلای شي.

زما په شخصي آند پدې مجله کې لکه له نوم څخه چې يې ښکاري، بايد داسې مسائل را برسيره شي، چې نه يواځې په پوهنتون پورې راګير پاتې شي، بلکې په عام ډول سره د افغاني ټولنې او په ځانګړي ډول سره د هلمند ولايت د اوسيدونکو و نني او سبا ژوند ته په کتلو سره، برياليتونونه، ستونزي ، وړانديزونه او د حل لارې-چارې ، وړاندې کړل شي.هغه وخت به د بُست پوهنتون علمي مجله يواځې د بست پوهنتون نه، بلکې د ټول هلمند ولايت ، آن د سيمي او ټول افغانستان په کچه د پوهې او څېړنې په برخه کې د وخت د غوښتنو سره سم ، د پاملرنې وړ او ځوان نسل ته د يوې سمې لارې د ښودلو په موخه ، يوه محبوبه او پر زياتو خلکو باندې ګرانه مجله وي او په ټول هيواد کې به خپل مينه وال ولري.

دا مجله به د بُست پوهنتون د مشرتابه، استادانو ، محصلانو ، فارغانو او ټولو مينه د علمي او څېړنيزو مقالو د خپرولو لپاره که هغوی د پوهې په هر ډګر کې چې وي، يو خپرنيز ارګان وي،چې و خپريدلو ته به يې ټول مينه وال په تمه ناست وي.څومره به پرځای او ښه خبر وي، چې د ټولنې لوستی قشر په تيره بيا د بست پوهنتون محترم استادان ، فارغ شوي او بر حاله محصلان د علمي او څېړنيزو مقالو و ليکلو ته و هڅول شي.

زه د بُست پوهنتون د ټولو منسوبينو په استازيتوب وياړ لرم ، چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې د خپريدلو له امله د محترم مؤسس، محترم علمي مرستيال او د څېړنې له محترم آمر او همدا رنګه د مجلې له ټولو کارکوونکو او پرسونل څخه د زيار او زحمت په ګاللو سره چې مجله يې و خپريدلو ته چمتو کړې ده ، مننه او قدرداني وکړم، ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وايم او هيله لرم چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې کارکوونکي به خپل رسالت د پوهنتون او ټول هلمندې ولس او په اخری تحليل کې د ټول افغان ملت پر وړاندې په پوره او ټينګ عزم سره سرته ورسوي.

**په درنښت**

**ډيپلوم انجنير محمود سنګين**

**د بُست پوهنتون رئيس**

# سریزه

بُست پوهنتون ویاړ لري چې د خپل علمي پرمختګ په لاره کې يې يو بل ډېر مهم او اړین ګام پورته کړ او هغه د بُست د علمي او څېړنیزي مجلې د دریم ټوک، دوهمي ګڼې خپرېدل دي . تر هر څه دمخه د پوهنتون ټولو استادانو، محصلانو او د علم او پوهې د لوی کور مینه والو ته د بُست د علمي او څېړنیزي مجلې د خپرېدلو مبارکي وړاندې کوم او ددې سره جوخت د ټولو ملګرو څخه چې ددې مجلې د جواز په تر لاسه کولو، ترتیبولو او خپرولو کې یې نه ستړې کېدونکې ونډه اخیستې ده د زړه له کومي مننه کوم.

د علمي کور کهول او اړوند کسانو ته ښکاره ده  او پوره باور لري چې د نننۍ نړۍ هر اړخیزه پر مختګ د پوهانو د علمي څېړنو د زیار له برکته ممکن سوی او د لوړو زده کړو مؤسسي، اکادمیک انستیتوتونه او څېړنیز علمي مرکزونه پکښې مرکزي او پریکنده رول لوبولی دی.

همدې اصل او ارزښت ته په کتو سره بُست پوهنتون غواړي د پرمختللو اکاډمیکو نورمونو په رعایت د تدریس، علمیڅېړنو او نوښتونو له لاري مسلکي کادرونه وروزي  او د معیاري تحصیلي اسانتیاوو او زمینو په برابرولو سره د ټولنې ځوانانو ته معیاري او د لوړ کیفیت لوړې  زده کړي وړاندی او د علمیڅېړنو پر بنسټ د کره پوهنیزو اثارو د تولید زمینه برابره کړي ، ترڅو د لوړو زده کړو او مسلکي پوهې په ډګر کې د ګټورو مهارتونو په تر لاسه کولو او د خپلو رښتینو اهدافو په لاسته راوړلو سره د ټولنې او هیواد په پرمختګ او رغونه کې رغنده ونډه واخلي او د رښتیني خدمت جوګه شي.

ژمن یو چي د هلمند ولایت، ګاونډیو ولایتونو او په ټول هیواد کي ځوان نسل ته د اسلامي ، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کي معیاري د علمي او مسلکي لوړو زده کړو او پراخو علمي څېړونو زمینه برابره او ټولني او هیواد ته ژمن او روزل سوي کادرونه وړاندي کړو.

د اوس لپاره د بُست علمي او څېړنیزه مجله یوازي د **سائینسي علومو** په برخه کې علمي او څېړنیزي مقالي او لیکني د چاپ او نشر د تګلارې سره سم مني او خپروي او هیله مند یو چې په راتلونکې کي به نوري برخي هم ور زیاتي کړل سي.

ډاډ لرم چې د بُست پوهنتون استادان، محصلان او علمي کارمندان به انشأالله، نن، سبا او په راتلونکې کې د خپلي علمي څېړنیزي مجلې د خپرولو له لاری خپل دغه دروند خو  ویاړلی دین (پور) ادأ کړي. همدا ډول ټولو د علم او پوهي څښتنانو او مینه والو ته  په مینه سره بلنه ورکوو چي ددی علمي او څېړنیزي مجلي او د بُست پوهنتون د پرمختګ په لاره کي خپلي علمي او څېړنیزي لیکني، آندونه، وړاندیزونه او رغنده  نیوکي  او مرستي د تل په شان  راولوروئ  او د علم  ددي ستر کور په ودانولو کي د خپلي دیني، او ملي برخي د اداینې ویاړ راوبخښی.

موږ هوډ کړیدي او هیله مند یو چي انشآ الله  د وخت په تیریدو سره به د خپل هیواد و بچیانو او ځوان نسل ته د تدریس ، ښه روزني او څېړنیز هاند لپاره  اړیني او د پام وړاسانتیاوي برابري کړو تر څو په لومړي پړاو کښي خپلو هلمندوالو بیا د سهیل لویدیځي حوزي او په پاي کښي و ټولو هیوادوالو ته د یو داسي چوپړ مصدر وګرځي چي زموږ د ځوریدلي اولس او ویجاړشوي هیواد اقتصادي، فرهنګي، سیاسي او ټولنیزي ستونزي حل او افغانستان د نړي د پرمختللوهیوادونو په لیکه کي ودریږي.

## لړلیک

د مقالی عنوان | د صفحی شمیره


**د پلاستیک په واسطه د محیط ککړتیا او په لښکرګاه ښار کې د پلاستیکي کڅوړو د مصرف اندازه** ------- 1

پوهندوی عبدالولي هجران[۱*]، حبیب الرحمن[۲]، بریالي[۳]، افتخار[۴]

**د هلمند ولایت په مارجه ولسوالۍ کې د پنبې پر تولید د وچکالۍ اغېزې** ---------------------------------------- 7

پوهندوی دوکتور علي احمد[۱*] او ارسلان وطندار[۲]

**Introduction to Farm Management and Its Importance** --------------------------------------------- 16

Sayed Abdul Wahab Saeedi[1*] and Mir Wais Nazari[2]

**په افغانستان کې مشهوره زهري نباتات او پر اهلي حیواناتو باندې د هغو منفي اغیزې** -------------------- 28

محمدالدین خادم[۱*]، پوهنیار عبدالفهیم سروري[۲] او پوهنمل محمدآمان احمدزي[۳]

**د لښکرګاه ښار په دوو کلیوو کاریز او قلعه بُست کې د انګورو پرتله کولو اقتصادي تحلیل کال (1403)** ----- 38

پوهنوال نقیب الله مجددي[۱*]، ارسلان وطندار[۲]، پوهنیار بریالی رفیع[۳]

**An Overview of Introduction, Importance and Types of Natural Resources** -------------- 52

Dr. Mohammad Shafi Akhundzada[1*] and Mir Wais Nazari[2]

**د هلمند ولایت په باباجي ولسوالۍ کې د ریحانو د تولید لګښت، ناخالصه ګټه، خالصه ګټه او مارکیټینګ چینلونو تحلیل ( کال ۱۴۰۲ )** --- 61

پوهندوي دوکتور علي احمد[۱*] او امان الله نیازی[۲]

**د هلـــــمند ولایت په ناوې ولسوالۍ کې د پنبې د تولید اقتصادي تحلیل کال (۱۴۰۲)** --------------- 71

میرویس نظري[۱*] او محمدالدین خادم[۲]

**د سردار ګل محمد خان صنعتي پارک د ودې پر وړاندې خنډونه** -------------------------------------- 80

ارسلان وطندار[۱*]، پوهندوی دوکتور علي احمد[۲]، عبدالقدیر خادم[۳]

**د هلمند ولایت د اوبو د سپما طرحه** ----------------------------------------------------------------- 88

محمد یوسفي[۱*]، ګل احمد احمدي[۲]، فیض محمد فیضي[۳]، عبدالحنان اغا[۴]، شیراغا خپلواک[۵]، خیرالله مزمل[۶] او محمد اقبال[۷]

# د لښکرګاه ښار په دوو کليوو کاريز او قلعه بُست کي د انګورو پرتله کولو اقتصادي تحليل کال (1403)

پوهنوال نقيب الله مجددي[1*]، ارسلان وطندار[2]، پوهنيار بريالی رفيع[3]

[1]هارټيکلچر څانګه، تباتي علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون (انستو)

[2]اداره او تشبثات څانګه، اقتصاد پوهنځی،بُست پوهنتون

[3]هارټيکلچر څانګه، کرهنې پوهنځی، هلمند پوهنتون

د مسؤل ايميل ادرس: mujadidi86@gmail.com

## لنډيز

دا څېړنه دلښکرګاه ولسوالي په دوو کليو کاريز او قلعه بُست کي د انګورو د پرتله کولو اقتصادي تحليل ( ۱۴۰۳) تر سرليک لاندي په (۱۴۰۳ ) هـ ش کال کي ترسره سوې ده. د څېړني عمده موخي د انګورو د توليد د لګښت معلومول، د انګورو د توليد د مجموعي او خالص عوايدو معلومول، په دووکليوو کي د انګورو لګښت، مجموعي او خالص عوايدو پرتله کول دي. د څېړني لپاره مو د لښکرګاه ولسوالی دوه کلي کاريز او قلعه بُست په قصدی ډول وټاکل او په دې کليوو کي (۶۰) تنه څواب ورکوونکي په تصادفي ډول انتخاب کړل، ترڅو د يادو ځواب ورکونکو(کروندګرو) څخه د مرکو او پوښتنپاڼو له طريقه لومړني معلومات ترلاسه کړو. د دوی کروندګر مو په دريو کټګوريو ووېشلې (کوچنی ۱-۲جريبه )، (ميانه ۲-۴جريبه) او (لوی۴-۶) چي د هري کروندې لپاره مو (۲۰) ځواب ورکونکي انتخاب کړل په عمومي ډول د څېړني څخه لاسته راغلو پايلو داسي و ښودل چي د قلعه بُست په کلي کي د مختلفو اندازو کروندګر په اوسط ډول په هر فصل کي ( ۶۵۰۹) کيلو ګرامه انګور توليدوي، په اوسط ډول مجموعي عوايد يې( ۲۷۲۰۴۸) افغانی دي په اوسط ډول د هر کروند ګر لګښت ( ۱۳۸۸۴۶)افغانی دی. د مختلفو اندازو کرونده لرونکي په اوسط ډول د انګورو د خرڅلاو څخه ( ۱۳۳۲۰۱) افغانی د خالص عايد په ډول لاسته راوړي. په اوسط ډول د قلعه بُست هر کروند ګر د يوه جريب ځمکي څخه ( ۲۴۲۵ ) کيلوګرامه انګور تر لاسه کوي چي د في جريب خالص عوايد يې په اوسط ډول ( ۶۷۷۰۱) افغانی ته رسيږي. همدارنګه د کاريز په کلي کي د کروندو اندازو ته کتو سره د مختلفو کټګوريو کروندګر په اوسط ډول په يوه فصل کي د خپلي کروندې څخه ( ۶۰۷۵ ) کيلوګرامه انګور تر لاسه کوي، چي مجموعي عوايد يې ( ۲۵۱۹۶۷ ) افغانی، لګښت يې په اوسط ډول ( ۲۰۵۸۷۵ ) افغانی، د هر کروندګر خالص عوايد په اوسط ډول ( ۱۸۳۰۵۱ ) افغانی او همدارنګه د کاريز په کلي کي هر کروندګر په اوسط ډول د هر جريب انګورو کروندې څخه ( ۱۹۵۰ ) کيلوګرامه انګور ترلاسه کوي چي د هر جريب خالص عوايد يې په اوسط ډول ( ۴۵۷۵۰ ) افغانی کيږي. په عموم کي د څېړني څخه داسي پايلي لاسته راغلي چي د قلعه بُست په کلي کي د انګور توليد د کاريز د کلي په نسبت زيات دی او همدارنګه د قلعه بُست کروندګرو د کاريز د کروندګرو په پرتله د انګورو د توليد څخه زيات عوايد ترلاسه کوي.

**کليدي کلمي:** دانګورو توليد، مجموعي عوايد، خالص عوايد او پرتله

## سریزه

انگور یو موسمي مېوه ده او د پانړۍ‌زه تاک په ډله کې شامل دي. انگور د vitis په جنس پوري تړلي دي. د انگور څخه په خام او یا پروسس سوي ډول استفاده کیږي. د A BC وېټامینونه لري یو اندازه مگنیزم، کلسیم، اوسپنه، فاسفورس، پوتاشیم او البومین هم لري انگور د لمړي ځل لپاره کابو 6000 یا 8000 کاله مخکي په نږدې شرق کې رواج سول. د انگورو دروزنې تاریخ د بشري ټولنې له تاریخ سره سمون لري له مېلاد څخه 2440 کاله پخوا د مصر په څلورمه امپراطورۍ کې دعیسی (ع) د وخت په لیکونو او ثبتونو کې د انگورو د روزنې شکلونه لیدل سوي. انگور د لمړي ځل لپاره په منځنۍ اسیا، توري بحیرې او کسپین بحیرو جنوب او ترمنځ کلیو او ښایي افغانستان کې پیدا سوي وي. نن ورځ د نړۍ د ټولو کرنیزو ا نگورو په 100 کې 90 برخې برابروي وروسته بیا انگور له نوموړو کلیو څخه د نړۍ نورو برخو ته خپاره سوي له مېلاد څخه 400 کاله پخوا فونشیانو د مشروباتو د انگورو ډولونه لومړۍ یونان بیا روم او په پای کې فرانسې ته یوړل. نن ورځ په ټوله نړۍ کې له 1012100 هکتاره څخه په زیاته ساحه کې انگور روزل کیږي. انگور د نورو مېوو لکه چهارمغز، زردالو منې، انار او سبزیجاتو لکه ملي گازري، شلغم او داسي نور د افغانستان ملي اقتصاد په پیاوړتیا او د خلگو په خوړکي کې ستره ونډه لري په (1377) کال کې دافغانستان 70500 هکتاره ځمکه کې انگور روزل کېدل چې د هغوی د یو کلن تولید اندازه 50500 ټنه اتکل سوې. د افغانستان د انگورو ټول دولونه دوینفیرا په سپیشیز پوري اړه لري. افغانستان د نوموړو انگورو یو له اصلي ټاټوبي څخه گڼل کیږي د امریکا په متحده ایالاتو کې د کلفورنیا په ایالات کې په منځنۍ توگه په یو هکتار کې 150تنه تازه انگور، د ازاربایجان په جمهوریت کې 409 ټنه او په افغانستان کې په اعظمي توگه په یو هکتار کې ٦تنه تازه انگور تولیدیږي. انگور د زیتون څخه وروسته په نړۍ کې دوهم تر ټولو کرل سوي سوداگریزه مېوه ده. دا په مختلیفو اقلیمي شرایطو کې کرل کیږي چې له معتدل څخه تر نیمه تودوخي او استوایي کلیو پوري اړه لري د حشراتو افتونه د انگورو سوداگریز تولید لپاره د لوی گواښ استازیتوب کوي. هغه حشرات چې د انگورو په پاڼو، ریښو، گلونو بیریو او شاتونو تغذیه کوي. د انگورو یا دونه شپږ ځایه په قران عظیم الشان کې سوې ده. په جنت کې به هم انگور انسانانو ته ورکول کیږي. انگور ډېره گټوره مېوه ده ، له یو کیلو انگورو څخه 150 څخه تر 120 گرامه پوري قندونه لاسته راغلي دي نبي کریم صلی علیه وسلم به انگور او هندوانې ډېري خوړلې د انگورو پکټیکي مواد ډېر ژر د جذب وړ پکټین باندي بدلیږي، نو ځکه هغه ناروغانو ته ډېر گټور دي چې د اوږدې ناروغۍ له کبله ضعیف سوي وي. د انگورو د تولید وېشنه د خوړو او کرهنې د نړیوال سازمان د یو څېړنې له مخې ښودل سوې ده چې په نړۍ کې 75866 کیلو متره مربع ځای د انگورو د تولید لپاره په نړۍ کې کاریږی (kauhik et al., 2023).

**د ستونزې بیان:**

عمومی ستونزه د منظم مارکېټ او پروسس نشتوالی، د لگښت لوړوالی، د انگورو پر تولید باندي دکیمیاوي او حیواني سرو د بیو زیاتوالی، د عصري کرنیزو ماشین الاتو او ابیاری ستونزه.

**د څېړنې اهمیت:**

افغانستان یوکرنیز هیواد دی، چې د مېووجاتو برسېره د انگورو د تولید یو ستره برخه تشکیلوي چې هر کال یې یوه زیاته اندازه له هیواده بهر نورو هیوادونو ته صا دروي. افغانستان د میویزو نباتاتو زانگو گڼل کیږي ځکه چې د یو زیات شمېر میویزو نباتاتو اصلی ټاټوبی گڼل کیږي. د میویزو نباتاتو د روزولو له پلوه افغانستان هم یو ښه حاصل ورکوونکی هیواد دی، ځکه چې د همدې میویزو نباتاتو لپاره د افغانستان اقلیمي شرایط خورا په زړه پوري دي، دا چې د افغانستان زیاتره سیمي په ژمي کې سړې او په دوبي کې گرمې وي، نو دا اقلیمي شرایط د میویزو نباتاتو د روزولو لپاره خورا مناسب بلل کیږي. د څېړنې د موخو پر بنسټ غواړم چې د هلمند ولایت لښکرگاه ښار په دوو کلیو کې د انگورو د تولید اقتصادي ارزونه ترسره کړم؛ نو زما د موضوع اهمیت په دې کې دی، چې د دې څېړنې په بشپړولو سره به ټولي هغه ستونزي و څېړم چې د کاریز او قلعه بُست کروندگر یې د انگورو د تولید او بازار موندنې په اړه لري او د دې څېړنې څخه به په را تلونکي کې سکتوري او غیر سکتوري اداري د ښلاښیلو پوهنتونونو استادان او محصلان گټه پورته کړي تر اوسه په دې اړه څېړنه نه ده ترسره سوې. دا څېړنه په هلمند ولایت کې د انگورو د تحلیل په اړه دقیق معلومات وړاندي کوي.

**د څېړنې موخې:**

1. د انگورو د تولید لگښت تحلیل کول.
2. د انگورو د تولید د مجموعي او خالص عوایدو معلومول.
3. په دواړو کلیو کې د انگورو د لگښت مجموعي او خالص عوایدو پرتله کول.

## مواد او کړنلاره

**الف. د څېړني ځای او وخت:** دا څېړنه د هلمند ولايت لښکرګاه ولسوالی په دوو کليوو کاريز او قلعه بُست کي د انګورو د پرتله کولو د توليد اقتصادي تحليل ترعنوان لاندي په (1403) کال کي ترسره سول.

| شماره | دکروندي ډول (جريب) | | |
|---|---|---|---|
| | کوچنی کروندي | ميانه کروندي | لوی کروندي |
| ۱ | ۲-۱ | ۲ - ۴ | ۴-٦ |

**۱ جدول: د کروندو کټګوري**

**ب. د څېړني ډيزاين:** د څېړني له پاره د هلمند ولايت لښکرګاه ولسوالی دوه کلي کاريز او قلعه بُست په قصدي ډول انتخاب کړل، ځکه چي په دي ساحه کي د انګورو زيات باغونه شتون لري، په دي ساحه کي (60) کروندګر په تصادفي ډول انتخاب کړل او د کروندګرو څخه د دوی د څمکو اړونده معلومات د مرکو او پوښتنليکونو له لاري راټول کړل سول او همدا راز کروندي مو په درو کټګوريو وويشلي (۱ جدول).

**ج. د څېړني مواد:** په څېړنه کي د لومړني او دوهمي معلوماتو څخه استفاده سوي ده، لومړني معلومات د هلمند ولايت لښکرګاه ښار د دوو کليوو د کروندګرو (څواب ورکوونکو) څخه د پوښتنپاڼو او مرکو پواسطه راټول کړل سوي دي او دوهمي معلومات د ملي او نړيوالو ژورنالونو، معتبرو کتابونو، ډاټا بيسونو او ويبسايټونو څخه تر لاسه سوي دي.

**د. احصايوي تحليل:** د څېړني را ټول سوي معلومات د (Excel) پروګرام له لاري تحليل کړل سوي دي.

## اقتصادي تحليل

**د خالص عايد تحليل (Net income analysis)**

په څېړنه کي د خالص عايد څخه مفهوم د انګورو د خرڅلاو څخه د تر لاسه سوي مجموعي عوايدو او د انګورو د توليد د ټولو لګښت د توپير څخه عبارت دی.

$$Net\ income = Total\ Revenue - Total\ Cost$$

**د ګټورتيا نسبت (Profitability Ratio)**

د ګټورتيا نسبت موږ ته د توليد د لګښت په مقابل کي د خالص عايد سلنه راښيي. د نوموړي نسبت ارزښت د دي څرګندونه کوي چي د انګورو هر کروندګر د توليد د يو واحد لګښت (يوي افغانۍ لګښت) په مقابل کي څومره خالص عوايد لاسته راوړي دي.

$$profitablity\ Ratio = \frac{Total\ Net\ income}{Total\ Production\ Cost}$$

**د لګښت ګټي نسبت (Cost Benefit Ratio)**

د لګښت ګټي نسبت هم د ګټورتيا د نسبتونو څخه دی دا نسبت موږ ته د توليد د لګښت په مقابل کي د خرڅلاو د عوايد اندازه راښيي. د دي نسبت ارزښت د دي ښودنه کوي چي کرونده ګر د هر واحد لګښت په مقابل کي څومره مجموعي عوايد تر لاسه کوي هر څومره چي د دغه نسبت ارزښت زياتيږي د زيات ګټورتوب ښودنه کوي.

$$Benefit\ Cost\ Ratio = \frac{Total\ Revenue}{Total\ Production\ Cost}$$

## نتيجه او مناقشه

**د ځواب ورکوونکو پېژندنه:**

د څېړني لپاره معلومات د قلعه بُست او کاريز په کليو کي د انګورو د ( ٦٠ ) تنه کروندګرو څخه راټول ســوي دي. د ځواب ورکوونکو له جملي څخه ۲۴ تنه (٪۴۰) د کاريز او ۳٦ تنه (٪٦۰ سـلنه) د قلعه بُست اوسيدونکي دي (۲ جدول).

**۲ جدول: د ځواب ورکوونکو پیژندنه**

| سلنه | فریکونسي | |
|---|---|---|
| 40.0 | 24 | کاریز |
| 60.0 | 36 | قلعه بُست |
| د عمر کچه | | |
| 31.7 | 19 | د ۳۰-۲۰ کلونه |
| 30.0 | 18 | د ۴۰-۳۰ کلونه |
| 31.7 | 19 | د ۵۰-۴۰ کلونه |
| 6.7 | 4 | د ۵۰ کلونو څخه لوړ |
| د تعلیم کچه | | |
| 66.7 | 40 | بي تعلیمه |
| 30.0 | 18 | دولسم پاس |
| 3.3 | 2 | لیسانس |
| د مارکیټ څخه فاصله | | |
| 5.0 | 3 | د ۳-۱ کیلومتره |
| 33.3 | 20 | د ٦-۳ کیلومتره |
| 8.3 | 5 | د ۹-٦ کیلومتره |
| 53.3 | 32 | د ۱۰ څخه زیات کلیومتره |
| د اوبو سرچیني | | |
| 48.3 | 29 | د ځمکي لاندي اوبه |
| 51.7 | 31 | د ویالي اوبه |
| د کروندې اندازه په جریب | | |
| 36.6 | 22 | د ۲-۱ جریبه |
| 30 | 18 | د ۴-۲ جریبه |
| 33.4 | 20 | د ٦-۴ جریبه |
| 100.0 | 60 | Total |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

**د کاریز او قلعه بُست کلیو د انګورو د تولید د لګښت او عوایدو تحلیل او پرتله:**

د څېړني په دې برخه کي د کاریز او قلعه بُست د کروندو د تولید د لګښت او لاسته راتلونکو عوایدو تحلیل او محاسبه ترسره سوې ده. په دواړو کلیو کي کروندې په دریو کټګوریو باندي وېشل سوي دي، موندنو ته کتنه سوې ده.

**د قلعه بُست کلي د کوچنۍ کروندې د لګښت او عوایدو تحلیل او پرتله:**

په قلعه بُست کلي کي هغه کروندې چې د ۱-۲ جریبه وي په اوسط ډول ۳،۹۸۳ کیلوګرامه د انګورو حاصل له یوې کروندې څخه ترلاسه کوي، د هري کروندې لګښت ٦۴٦۲۵ افغانۍ دی. د هري کوچنۍ کروندې مجموعي عواید په اوسط ډول ۱٦۳۳۰۳افغانۍ، خالص عواید یې ۹۸٦۷۸ افغانۍ او د هري کروندې څخه پر في جریب ځمکه ۳٦۲۰ کیلوګرامه د انګورو حاصل تر لاسه کوي، چې د هر جریب خالص عواید یې په اوسط ډول د ۸۹۷۰۸ افغانۍ سره مساوي دي.

د (Patil, 2023) له لوري د بوتسوانا د کولهاپور د سنګلي ولسوالۍ په تاسګوان بلاک کي د څېړني لاسته راغلې پایله ښیي چې د انګورو د هر هکتار کروندې لګښت ۱۹۹٦۸۰ روپۍ او خالص عواید یې پر هر هکتار في کرونده باندي ۲۴۰۰۸۱ روپۍ کیږي. همدارنګه یې د ګټورتیا نسبت ۱.٦ راغلي دی چې زموږ د څېړني د پایلي سره تقریبا مشابهت لري. د (Zwaid, 2021) له لوري د صلاح الدین په البلاد ولسوالۍ کي لاسته راغلي پایلي ښیي چې د انګورو د هري کروندې څخه ۷۱۸۲ دیناره خالص عواید تر لاسه کیږي. همدارنګه د (Maponya, 2020) له لوري د جنوبي افریقا په لیمپوپو ولایت کي لاسته راغلي پایلي ښیي چې د انګورو د هر هکتار کروندې لګښت ٦۰۰۰۰ روپۍ او د هري کروندې څخه ۷۹۳۴۳ روپۍ خالص عواید تر لاسه کیږي چې د دغه دواړو څېړنو پایلي زموږ د څېړني د پایلي سره مخالفت لري.

**د قلعه بُست کلي د کوچنۍ کروندې د ګټورتیا نسبت تحلیل:**

$$profitablity\ Ratio = \frac{Total\ Net\ income}{Total\ Production\ Cost}$$

$$= \frac{98658}{64625} = 1.5266$$

د پورتني تحلیل څخه داسي پایله لاسته راځي چې د قلعه بُست په کلي کي هغه کروندې چې د ۱-۲ جریبه وي د تولید د لګښت د هري افغانۍ

په مقابل کي ۱.۵۲۶۶ افغانۍ خالص عايد ترلاسه کوي. دغه لاسته راغلې پايله د (Patil, 2023) څېړني د لاسته راغلي پايلي سره مشابهت لري. د (Zwaid, 2021) له لوري په البلاد ولسوالۍ کي لاسته راغلي پايلي ښيي چي د هري کرونديڼ د ګټورتيا نسبت ۰.۸۵ دی. همدا ډول د (Maponya, 2020) له لوري د جنوبي افريقا په ليمپوپو ولايت کي لاسته راغلي پايلي ښيي چي د انګورو د هر هکتار کرونديڼ د ګټورتيا نسبت ۲.۹ او د هري کرونديڼ د لګښت ګټي نسبت ۳.۲ دی، چي د دغه دواړو څېړونو پايلي زموږ د څېړني د پايلي سره لږ مشابهت لري.

**د کوچنۍ کرونديڼ د لګښت ګټي نسبت (Cost Benefit Ratio) تحليل:**

$$Benefit\ Cost\ Ratio = \frac{Total\ Revenue}{Total\ Production\ Cost} = \frac{163283}{64625} = 2.5$$

د لګښت ګټي نسبت د تحليل څخه داسي پايله لاسته راځي چي د قلعه بُست په کلي کي هغه کرونديڼ چي د ۱-۲ جريبه
وي د توليد د لګښت د هري افغانۍ په مقابل کي ۲.۵ افغانۍ مجموعي عوايد تر لاسه کوي. د (KHAIR, 2009) له لوري د پاکستان په پښين کي لاسته راغلي پايلي ښيي چي د کروند ګرو د cost benefit ratio

نسبت ۲.۷ دی، چي د دغه څېړني د پايلي سره مشابهت لري. د (Maponya, 2020) له لوري د جنوبي افريقا په ليمپوپو ولايت کي لاسته راغلي پايلي ښيي چي د هري کرونديڼ د لګښت کټي نسبت ۱.۹۹ دی، چي دغه موندني زموږ د څېړني د پايلي سره لږ توپير لري.

**۳ جدول: په قلعه بُست کي د انګورو د کوچنۍ کرونديڼ د توليد لګښت او عوايد**

| شماره | مشخصات | | مبلغ په افغانيو | مبلغ په افغانيو |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د خرڅلاوو مقدار په کيلوګرام | | 3983 | |
| ۲ | د في کيلوګرام قيمت | | 41 | |
| ۳ | مجموعي عوايد | | | 163303 |
| د توليد لګښت: | | | | |
| ۵ | د ځمکي اماده کول | | 10200 | |
| ۶ | ابياري | | 5400 | |
| ۷ | کيمياوي کود | UREA | 4000 | |
| | | DAP | 7740 | |
| ۸ | کيمياوي درمل | | 3440 | |
| ۹ | حيواني کود | | 700 | |
| ۱۱ | روز مزد | | 5333 | |
| ۱۲ | بزګري | | 4067 | |
| ۱۳ | رفع حاصل | | 7538 | |
| ۱۴ | زکات | | 11406 | |
| ۱۵ | استهلاک | | 4800 | |
| ۱۶ | نور | | 0 | |
| ۱۷ | د توليد لګښت | | | 64625 |
| ۱۸ | خالص عوايد | | | 98678 |
| ۱۹ | د حاصلاتو مقدار في جريب په کيلوګرام | | | 3620 |
| ۲۰ | في جريب خالص عوايد | | | 89708 |
| د ګټورتيا نسبت profitability ratio / | | | | 1.53 |
| د لګښت ګټي نسبت cost benefit ratio / | | | | 2.5 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

**د کاريز کلي د کوچنۍ کرونديڼ د لګښت او عوايدو تحليل او پرتله:**

د کاريز په کلي کي هغه کرونديڼ چي د ۱-۲ جريبه وي په اوسط ډول ۳۴۸۸ کيلوګرامه د انګورو حاصل ور څخه ترلاسه کيږي، دغه ډول د توليد لګښت يې ۴۷۹۵۱ افغانۍ دی. په اوسط ډول د هري کوچنۍ کرونديڼ مجموعي عوايد په ۱۴۶۴۷۵ افغانۍ، خالص عوايد يې ۹۸۵۲۴ افغانۍ او د هري کرونديڼ څخه پر في جريب ځمکه ۱۹۹۳ کيلوګرامه د انګورو حاصلات تر لاسه کيږي چي د في جريب خالص عوايد يې په اوسط ډول د ۵۶۲۹۹ افغانۍ سره مساوي دي.

(Alagumani, 2018) له لوري د تامل ناډو په تيني ولسوالۍ کي لاسته راغلي پايلي ښيي چي د انګورو د هري کرونډې لګښت ۷۳۸۱۵ روپۍ دی او د هري کرونډې خالص عوايد ۴۶۴۷۴ روپۍ دي. په نتيجه کي ويلای سو چي دا پايلي زموږ د لاسته راغلي پايلو څخه لږ ښکته دي.

**د کاريز کلي د کوچنۍ کرونډې د ګټورتيا د نسبت تحليل:**

$$profitablity\ Ratio = \frac{Total\ Net\ income}{Total\ Production\ Cost}$$

$$= \frac{98524}{47951} = 2.0546$$

د پورتني تحليل څخه داسي پايله لاسته راځي چي د کاريز په کلي کي د هغه کرونده چي د ۱-۲ جريبه وي د توليد د لګښت د هري افغانۍ په مقابل کي ۲.۰۵۴۶ افغانۍ خالص عايد ترلاسه کوي.

(Chavan, 2024) له لوري د مهاراشترا ايالت په ناسک ولسوالۍ کي لاسته راغلي پايلي ښيي چي د انګورو د توليد د ګټورتيا نسبت ۲.۳ دی، چي دغه لاسته راغلي پايله زموږ د څېړني دپايلي سره ورته والی لري. د (Manjappa, 2023) له لوري د هند په شمالي کرناتاکا کي لاسته راغلي پايلو ښودلې ده چي د انګورو د هري کرونډې د ګټورتيا نسبت ۱.۲۴ دی، چي دغه لاسته راغلي پايلي ښيي چي د هند په شمالي کرناتاکا کي د هري کرونډې د ګټورتيا نسبت زموږ د څېړني د لاسته راغليو پايلو څخه کم دی.

**د کاريز د کوچنۍ کرونډې د لګښت ګټي نسبت (Cost Benefit Ratio) تحليل:**

$$Benefit\ Cost\ Ratio = \frac{Total\ Revenue}{Total\ Production\ Cost}$$

$$= \frac{146475}{47951} = 3.05$$

د لګښت ګټي نسبت د تحليل څخه داسي پايله لاسته راځي چي د کاريز هغه کرونډې چي د ۱-۲ جريبه وي د توليد د لګښت

د هري افغانۍ په مقابل کي ۳.۰۵ افغانۍ عوايد تر لاسه کوي. د ((Chavan, 2024 څېړني پايلي ښودلې چي د انګورو د کرونډې د لګښت ګټي نسبت ۲.۹ دی، چي دغه پايلي تقريبا زموږ د څېړني د پايلي سره مشابهت لري.

**۴ جدول: په کاريز کي د انګورو د کوچنۍ کرونډې د توليد لګښت او عوايد**

| شماره | مشخصات | | مبلغ په افغانيو | مبلغ په افغانيو |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د خرڅلاو مقدار په کيلوګرام | | 3488 | |
| ۲ | د في کيلوګرام قيمت | | 42 | |
| ۳ | مجموعي عوايد | | | 146475 |
| | د توليد لګښت: | | | |
| ۵ | د ځمکي اماده کول | | 2125 | |
| ۶ | ابياري | | 2500 | |
| ۷ | کيمياوي کود | UREA | 3276 | |
| | | DAP | 7000 | |
| ۸ | کيمياوي درمل | | 950 | |
| ۹ | حيواني کود | | 1500 | |
| ۱۱ | روز مزد | | 3750 | |
| ۱۲ | بزګري | | 9333 | |
| ۱۳ | رفع حاصل | | 1767 | |
| ۱۴ | زکات | | 10750 | |
| ۱۵ | استهلاک | | 5000 | |
| ۱۶ | نور | | 0 | |
| ۱۷ | د توليد مجموعي لګښت | | | 47951 |
| ۱۸ | خالص عوايد | | | 98524 |
| ۱۹ | د حاصلاتو مقدار في جريب په کيلوګرم | | | 1993 |
| ۲۰ | في جريب خالص عوايد | | | 56299 |
| | د ګټورتيا نسبت profitability ratio / | | | 2.0546 |
| | د لګښت ګټي نسبت cost benefit ratio / | | | 3.0546 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

**د قلعه بُست او کاريز د کليو د کوچنيو کرونډو د لګښت او عوايدو پرتله:**

د قلعه بُست په کلي کي د هري کوچنۍ کرونډې د يوه فصل حاصلات په اوسط ډول ۳۹۸۳ کيلوګرامه او د کاريز په کلي کي د انګورو د يوې کرونډې حاصلات په اوسط ډول ۳۴۸۸ کيلوګرامه دي، چي د قلعه بُست په پرتله کم دي. د قلعه بُست د کوچنۍ کرونډې لګښت ۶۴۶۲۵ افغانۍ او د کاريز په کلي کي د هري کرونډې لګښت ۴۷۹۵۱ افغانۍ دی. د قلعه بُست د کلي د هري کرونډې مجموعي عوايد په اوسط

ډول ۱۶۳۲۸۳ افغانۍ او د کاریز د کلي د هر کوچنی کرونـدي د خرڅلاو عواید ۱۴۶۴۷۵ افغانۍ دی، چې د قلعه بُست په پرتله کم دی.

د قلعه بُسـت په کلي کي د انګورو د کوچنی کرونډي څخه په اوسط ډول ۹۸۶۵۸ افغانۍ خالص عایـد ترلاســه کیږي. خو د کاریز د هر کوچنی کرونډي څخه ۹۸۵۲۴ افغانۍ خالص عواید ترلاسـه کیږي، د قلعه بُســت په کلي کي د في جریب انګورو کرونډي څخه ۸۹۶۸۹ افغانۍ د خالص عاید په ډول ترلاســه کیږي او د کاریز په کلي کي د في جریب څمکي څخه ۵۶۲۹۹ افغانۍ د خالص عاید په ډول ترلاسـه کیږي چې د قلعه بُست په پرتله کم دی.

۱ شکل: د کوچنیو کروندو د لګښت او عوایدو پرتله




| | قلعه بست | کاریز |
|---|---|---|
| تولید سوی مقدار | ۳۹۸۳ | ۳۴۸۸ |
| مجموعه عواید | ۱۶۳۲۸۳ | ۱۴۶۴۷۵ |
| لګښت | ۶۴۶۲۵ | ۴۷۹۵۱ |
| خالص عواید | ۹۸۶۵۸ | ۹۸۵۲۴ |
| فی جریب تولید سوی مقدار | ۳۶۲۰ | ۱۹۹۳ |
| فی جریب خالص عواید | ۸۹۶۸۹ | ۵۶۲۹۹ |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

**د میانه کروندې د تولید د لګښت او عوایدو تحلیل او پرتله:**

په قلعه بُســت کلي کي هغه کروندې چې د ۲-۴ جریبه دي په اوسـط ډول ۵۵۸۰ کیلوګرامه د انګورو حاصـل ور څخه ترلاسـه کیږي، د هري میانه کروندې د تولید لګښـت ۱۱۱۷۰۰ افغانۍ دی. د هري میانه کروندې مجموعي عواید په اوسط ډول ۲۳۴۳۶۰ افغانۍ، خالص عواید یې ۱۲۲۶۶۰ افغانۍ او د هري کرونـدې څخه پر في جریـب ځمکه ۱۹۹۳ کیلوګرامه د انګورو حاصلات تر لاسه کیږي، چې د في جریب خالص عواید یې په اوسط ډول د ۸۳۷۰۰ افغانۍ سره مساوي دي.

**د قلعه بُست کلي د میانه کروندې د ګټورتیا نسبت تحلیل:**

**د قلعه بُست کلي د میانه کروندې د ګټورتیا نسبت تحلیل:**

$$profitablity\ Ratio = \frac{Total\ Net\ income}{Total\ Production\ Cost}$$

$$= \frac{122660}{111700} = 1.098$$

د پورتني تحلیل څخه داسي پایله لاسته راځي چې د قلعه بُست په کلي کي هغه کروندې چې د ۲-۴ جریبه وي د تولید د لګښت د هري افغانۍ په مقابل کي ۱.۰۹۸ افغانۍ خالص عاید ترلاســه کوي. د (Ghsemi, 2010) له لوري د ایران په سیستان کي د ترسره سوي څېړني پایلي ښيي چې د هر هکتار کرونډي د ګټورتیا نسـبت ۱.۱۲ دی، چې دغه لاســته راغلي پـایلي زموږ د څېړني د پـایلي سره ورتـه والی لري، خو د (Chavan, 2024) له لوري د مهاراشترا ایالت په ناسک ولسوالی کي لاسـته راغلي پایلي ښـیي چې د انګورو د تولید د ګټورتیا نسـبت ۲.۳ دی، چې دغه لاسـته راغلي پایله زموږ د څېړني د پایلي سره ورته والی نه لري.

**د میانه کروندې د لګښت ګټي نسبت (Cost Benefit Ratio) تحلیل:**

$$Benefit\ Cost\ Ratio = \frac{Total\ Revenue}{Total\ Production\ Cost}$$

$$= \frac{234360}{111700} = 2.09$$

د لګښت ګټي نسبت د تحلیل څخه داسي پایله لاسته راځي چې د قلعه بُست هغه کروندې چې د ۲-۴ جریبه وي د تولید د لګښت د هري افغانۍ په مقابل کي ۲.۰۹۸ افغانۍ عواید تر لاسه کوي.

**۵ جدول: په قلعه بُست کي د انګورو د میانه کروندې د تولید لګښت او عواید**

| شماره | مشخصات | | مبلغ په افغانيو | مبلغ په افغانيو |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د خرڅلاو مقدار په کیلوګرام | | 5580 | |
| ۲ | د في کیلوګرام قیمت | | 42 | |
| ۳ | مجموعي عواید | | | 234360 |
| د تولید لګښت: | | | | |
| ۵ | د څمکي اماده کول | | 10700 | |
| ۶ | ابياري | | 6200 | |
| ۷ | کیمیاوي کود | UREA | 8800 | |
| | | DAP | 10000 | |
| ۸ | کیمیاوي درمل | | 2700 | |
| ۹ | حیواني کود | | 1000 | |
| ۱۰ | | | | |
| ۱۱ | روز مزد | | 11700 | |
| ۱۲ | بزګري | | 23200 | |
| ۱۳ | رفع حاصل | | 9400 | |
| ۱۴ | زکات | | 20000 | |
| ۱۵ | استهلاک | | 8000 | |
| ۱۶ | نور | | 0 | |
| ۱۷ | د تولید مجموعي لګښت | | | 111700 |
| ۱۸ | خالص عواید | | | 122660 |
| ۱۹ | د حاصلاتو مقدار في جریب په کیلوګرم | | | 1993 |
| ۲۰ | في جریب خالص عواید | | | 83700 |
| د ګټورتیا نسبت profitability ratio / | | | | 1.09811 |
| د لګښت ګټي نسبت cost benefit ratio / | | | | 2.09811 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

**د کاریز کلي د میانه کروندې د لګښت او عوایدو تحلیل او پرتله:**

د کاریز په کلي کي هغه کروندې چي د ۲-۴ جریبه وي په اوسط ډول ۵۲۵۰ کیلوګرامه د انګورو حاصلات ورڅخه ترلاسه کیږي، لګښت یې ۱۱۰۸۶۷ افغانۍ دی. د هري میانه کروندې مجموعي عواید په اوسط ډول ۲۲۰۵۰۰ افغانۍ، خالص عواید یې ۱۰۹۶۳۳ افغانۍ او د هري کروندې څخه پر في جریب څمکه ۱۷۵۰ کیلوګرامه د انګورو حاصلات تر لاسه کیږي، چي د هر جریب خالص عواید یې په اوسط ډول د ۳۶۵۴۴ افغانۍ سره مساوي دي.

(KHAIR, 2009) له لوري د پاکستان په پښين کي لاسته راغلي پايلي ښيي چي د انګورو د هري کروندې لګښت ۲۶۳۵۸۶ او د هري کروندې خالص عواید ۱۹۲۸۰۰ پاکستانۍ کلداري دی.

**د کاریز کلي د میانه کروندې د ګټورتیا نسبت تحلیل:**

$$profitablity\ Ratio = \frac{Total\ Net\ income}{Total\ Production\ Cost} = \frac{109633}{110867} = 0.988$$

د پورتني تحلیل څخه داسي پايله لاسته راځي چي د کاریز په کلي کي هغه کروندې چي د ۲-۴ جریبه وي د تولید د لګښت د هري افغانۍ په مقابل کي ۰.۹۸۸ افغانۍ خالص عواید ترلاسه کوي. د (Deepak, 2007) له لوري د هند د مهاراشترا ايالت د ناسیک ولسوالۍ په نيفهډ ټالوکا کي لاسته راغلي پايلي څرګندوي چي د هري کروندې د ګټورتیا نسبت ۰.۸۱۲ دی، چي د دغه څېړني پايلي زموږ د څېړني د پايلو سره په کمه اندازه ورته والی لري.

**د میانه کروندې د لګښت ګټي نسبت (Cost Benefit Ratio) تحلیل:**

$$Benefit\ Cost\ Ratio = \frac{Total\ Revenue}{Total\ Production\ Cost} = \frac{220500}{110867} = 1.98$$

د لګښت ګټي نسبت د تحلیل څخه داسي پايله لاسته راځي چي د کاریز هغه کروندګر چي د انګور د ۲-۴ جریبه کرونده لري د تولید د لګښت د هري افغانۍ په مقابل کي ۱.۹۸ افغانۍ مجموعي عواید تر لاسه کوي. د (Deepak, 2007) له لوري د هند د مهاراشترا ايالت د ناسیک ولسوالۍ په نيفهډ ټالوکا کي لاسته راغلي پايلي څرګندوي چي د هري کروندې د لګښت ګټي نسبت ۱.۸۶ دی، چي دا پايلي هم زموږ د څېړني د پايلو سره مشابهت لري.

٦ جدول: په کاریز کي د انګورو د میانه کروندګ د تولید لګښت او عواید

| شماره | مشخصات | | مبلغ په افغانیو | مبلغ په افغانیو |
|---|---|---|---|---|
| ١ | د خرخلاو مقدار په کیلوګرام | | 5250 | |
| ٢ | د في کیلوګرام قیمت | | 42 | |
| ٣ | مجموعي عواید | | | 220500 |
| | د تولید لګښت: | | | |
| ٥ | د ځمکي اماده کول | | 9833 | |
| ٦ | ابیاري | | 7500 | |
| ٧ | کیمیاوي کود | UREA | 8000 | |
| | | DAP | 10167 | |
| ٨ | کیمیاوي درمل | | 9000 | |
| ٩ | حیواني کود | | 1200 | |
| ١٠ | | | | |
| ١١ | روز مزد | | 11333 | |
| ١٢ | بزګري | | 15000 | |
| ١٣ | رفع حاصل | | 10667 | |
| ١٤ | زکات | | 19000 | |
| ١٥ | استهلاک | | 9167 | |
| ١٦ | نور | | 0 | |
| ١٧ | د تولید مجموعي لګښت | | | 110867 |
| ١٨ | خالص عواید | | | 109633 |
| ١٩ | د حاصلاتو مقدار في جریب په کیلوګرم | | | 1750 |
| ٢٠ | في جریب خالص عواید | | | 36544 |
| | د ګټورتیا نسبت profitability ratio / | | | |
| | د لګښت ګټي نسبت cost benefit ratio / | | | |

منبع: د ساحې ښخه راټوله سوې ډاټا

**د قلعه بُســت او کاریز د کلیو د میانه کروندو د لګښــت او عواید پرتله:**

د قلعه بُســت په کلي کي د هر میانه کروندګ حاصــلات د ٥٥٨٠ کیلوګرامه او د کاریز په کلي کي د انګورو د میانه کروندګ حاصــلات ٥٢٥٠ کیلوګرامه دي، چي د قلعه بُست په پرتله کم دي. د قلعه بُست د میانه کروندګ لګښــت ١١١٧٠٠ افغانۍ او د کاریز په کلي کي د هر میانه کروندګ لګښت ١١٠٨٦٧ افغانۍ دي. د قلعه بُست کلي د هري کروندګ مجموعي عواید په اوســط ډول ٢٣٤٣٦٠ افغانۍ او د کاریز کلي د هر میانه کروندګ مجموعي عواید ٢٢٠٥٠٠ افغانۍ دي، چي د قلعه بُســت په پرتله کم دي. د قلعه بُســت کروندګر په اوســط ډول د انګورو د هري میانه کروندګ څخه ١٢٢٦٦٠ افغانۍ د خالص عاید په ډول ترلاســه کوي، خو د کاریز کروند ګر ١٠٩٦٣٣ افغانۍ خالص عواید ترلاسه کوي، د قلعه بُست د کلي د هري میانه کروندګ څخه پر في جریب ځمکه ٨٣٧٠٠ افغانۍ د خالص عاید په ډول ترلاســه کیري او د کاریز د میانه کروندګ څخه پر في جریب ځمکه ٣٦٥٤٤ افغانۍ د خالص عوایدو په ډول ترلاســه کیري چي د قلعه بُســت په پرتله کم دی.

٢ شکل: د میانه کروندو د لګښت او عوایدو پرتله




منبع: د ساحې ښخه راټول سوي معلومات

د قلعه بُست په کلي کي هغه کروندګ چي د ٤-٦ جریبه وي په اوسط ډول ٩٩٦٤ کیلوګرامه د انګورو حاصل ور څخه ترلاسه کیري، لګښت یې ٢٤٠٢١٥ افغانۍ دي. د هري لوی کروندګ مجموعي عواید په اوســط ډول ٤١٨٥٠٠ افغانۍ، خالص عواید یې ١٧٨٢٨٥ افغانۍ او د هري کروندګ څخه پر في جریب ځمکه ١٦٦١ کیلوګرامه د انګورو حاصلات تر لاسه کیري چي د هر جریب خالص عواید یې په اوسط ډول د ٢٩٧١٤ افغانۍ سره مســاوي دي. د (Mhetre, 2020) څېړني پایلي ښیي چي د مهاراشترا ایالت په سنګلي ولسوالۍ کي د هر هکتار انګورو کروندګ لګښــت ١١٢٤٨٦٢ هندی روپۍ دی، د هر هکتار د انګورو تولید ٥٧٢٠ کوانټیله دی او د هر هکتار انګورو کروندګ خالص

عوايد ۹۷۲۴۲۴ هندي روپۍ دي. دغه ډول د تانزانيا په ډوډما کې د (Deus, 2022) له لوري تر لاسه سوي پايلې ښيي چې په اوسط ډول د هر هکتار کرونديې څخه ٦٦٧،۴۱۹ خالص عوايد او د هر هکتار کرونديې دتوليد لګښت په اوسط ډول د ۸۳۱،۰۰۰ تانزانيايي روپيو سره برابر دي.

**د قلعه بُست کلي د لوی کرونديې د ګټورتيا نسبت تحليل:**

$$profitablity\ Ratio = \frac{Total\ Net\ income}{Total\ Production\ Cost} = \frac{178285}{240215} = 0.742$$

د پورتني تحليل څخه داسې پايله لاسته راځي چې د قلعه بُست په کلي کې د هغه کرونديې چې د ۴-٦ جريبه وي د توليد د لګښت د هري افغانۍ په مقابل کې ۰.۷۴۲ افغانۍ خالص عايد ترلاسه کوي. د تانزانيا په ډوډما کې د (Deus, 2022) له لوري تر لاسه سوي پايلې ښيي چې د هري کرونديې د ګټورتيا نسبت ۰.۴۲ دی، چې دغه لاسته راغلې پايلې زموږ د څېړنې د لاسته راغليو پايلو سره ورته والی نه لري.

**د لوی کرونديې د لګښت ګټې نسبت (Cost Benefit Ratio) تحليل:**

$$Benefit\ Cost\ Ratio = \frac{Total\ Revenue}{Total\ Production\ Cost} = \frac{418500}{240215} = 1.74$$

د لګښت ګټې نسبت د تحليل څخه داسې پايله لاسته راځي چې د قلعه بُست په کلي کې د لوی کرونديې څخه د توليد د لګښت د هري افغانۍ په مقابل کې ۱.۷۴ افغانۍ مجموعي عوايد تر لاسه کيږي.

**۷ جدول: په قلعه بُست کې د انګورو د لوی کرونديې د توليد لګښت او عوايد**

| شماره | مشخصات | | مبلغ په افغانيو | مبلغ په افغانيو |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د خرخلاو مقدار په کيلوګرام | | 9964 | |
| ۲ | د في کيلوګرام قيمت | | 42 | |
| ۳ | مجموعي عوايد | | | 418500 |
| | د توليد لګښت: | | | |
| ۵ | د ځمکې اماده کول | | 20714 | |
| ٦ | ابياري | | 7571 | |
| ۷ | کيمياوي کود | UREA | 8286 | |
| | | DAP | 21000 | |
| ۸ | کيمياوي درمل | | 8571 | |
| ۹ | حيواني کود | | 500 | |
| ۱۰ | | | | |
| ۱۱ | روز مزد | | 13286 | |
| ۱۲ | بزګري | | 20429 | |
| ۱۳ | رفع حاصل | | 21429 | |
| ۱۴ | زکات | | 85000 | |
| ۱۵ | استهلاک | | 33429 | |
| ۱٦ | نور | | 0 | |
| ۱۷ | د توليد مجموعي لګښت | | | 240215 |
| ۱۸ | خالص عوايد | | | 178285 |
| ۱۹ | د حاصلاتو مقدار في جريب په کيلوګرم | | | 1661 |
| ۲۰ | في جريب خالص عوايد | | | 29714 |
| | د ګټورتيا نسبت/ profitability ratio | | | 0.7421 |
| | د لګښت ګټې نسبت/ cost benefit ratio | | | 1.7421 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

د کاريز په کلي کې هغه کرونديې چې د ۴-٦ جريبه وي په اوسط ډول ۹۴۸٦ کيلوګرامه د انګورو حاصلات ور څخه تر لاسه کيږي، د توليد لګښت يې ۲۰۵۸۷۵ افغانۍ دي. د هري لوی کرونديې مجموعي عوايد په اوسط ډول ۳۸۸۹۲٦ افغانۍ، خالص عوايد يې ۱۸۳۰۵۱ افغانۍ او د هري لوی کرونديې څخه پر في جريب ځمکه ۲۱۰۸ کيلوګرامه د انګورو حاصلات تر لاسه کيږي چې د هر جريب خالص عوايد يې په اوسط ډول د ۴۵۷۵۰ افغانۍ سره مساوي دي.

**د کاریز کلي د لوی کروندې د ګټورتیا نسبت تحلیل:**

$$profitablity\ Ratio = \frac{Total\ Net\ income}{Total\ Production\ Cost}$$
$$= \frac{183051}{205875} = 0.889$$

د پورتني تحلیل څخه داسي پایله لاسته راځي چي د کاریز په کلي کي د هغه کروندې چي د ۴-۶ جریبه وي د تولید د لګښـــت د هري افغانۍ په مقابل کي ۰.۸۸۹ افغانۍ خالص عاید ترلاسه کوی.

**د لوی کروندې د لګښت ګټي نسبت (Cost Benefit Ratio) تحلیل:**

$$Benefit\ Cost\ Ratio = \frac{Total\ Revenue}{Total\ Production\ Cost}$$
$$= \frac{388926}{205875} = 1.88$$

د لګښت ګټي نسبت د تحلیل څخه داسي پایله لاسته راځي چي د کاریز هغه کروندې چي د ۶-۴ جریبه وي د تولید د لګښت د هري افغانۍ په مقابل کي ۱.۸۸ افغانۍ مجموعي عواید تر لاسه کوي. د (Mhetre, 2020) څېړني پایلي ښودلې ده چي د انګورو د هري کروندې د ګټورتیا نسبت ۰.۸۱ دی، همدارنګه د هر کروندې د لګښت ګټي نسبت ۱.۴ دی. چي د دغه څېړني لاسته راغلي پایلي زموږ د څېړني د لاسته راغلیو پایلو سره ورته والی لري.

**۸ جدول: په کاریز کلي کي د انګورو د لوی کروندې د تولید لګښت او عواید**

| شماره | مشخصات | مبلغ په افغانیو | مبلغ په افغانیو |
|---|---|---|---|
| ۱ | د خرڅلاو مقدار په کیلوګرام | 9486 | |
| ۲ | د في کیلوګرام قیمت | 41 | |
| ۳ | مجموعي عواید | | 388926 |
| | د تولید لګښت: | | |
| ۵ | د ځمکي اماده کول | 23125 | |
| ۶ | ابیاري | 2375 | |
| ۷ | کیمیاوي کود UREA | 8000 | |
| | کیمیاوي کود DAP | 20000 | |
| ۸ | کیمیاوي درمل | 8250 | |
| ۹ | حیواني کود | 500 | |
| ۱۰ | | | |
| ۱۱ | روز مزد | 15750 | |
| ۱۲ | بزګري | 16250 | |
| ۱۳ | رفع حاصل | 13125 | |
| ۱۴ | زکات | 85000 | |
| ۱۵ | استهلاک | 13500 | |
| ۱۶ | نور | 0 | |
| ۱۷ | د تولید مجموعي لګښت | | 205875 |
| ۱۸ | خالص عواید | | 183051 |
| ۱۹ | د حاصلاتو مقدار في جریب په کیلوګرم | | 2108 |
| ۲۰ | في جریب خالص عواید | | 45750 |
| | د ګټورتیا نسبت profitability ratio / | | 0.8891 |
| | د لګښت ګټي نسبت cost benefit ratio / | | 1.8891 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

**د قلعه بُســت او کاریز د کلیو د لوی کروندو د لګښــت او عوایدو پرتله:**

د قلعه بُست په کلي کي د هري لوی کروندې د یوه فصل حاصلات د ۹۹۶۴ کیلوګرامه او د کاریز په کلي کي د انګورو د یوه فصل حاصلات ۹۴۸۶ کیلوګرامه دي، چي د قلعه بُست په پرتله کم دي. د قلعه بُست د لوی کروندې لګښــت ۲۴۰۲۱۵ افغانۍ او د کاریز په کلي کي د هري لوی کروندې لګښت ۲۰۵۸۷۵ افغانۍ دي. د قلعه بُست د کلي د هري لوی کروندې مجموعي عواید په اوســط ډول ۴۱۸۵۰۰ افغانۍ او د کاریز د کلي د هري لوی کروندې مجموعي عواید ۳۸۸۹۲۶ افغانۍ دی، چي د قلعه بُســت په پرتله کم دی. د قلعه بُســت د لوی کروندې څخه په اوســط ډول ۱۷۸۲۸۵ افغانۍ د خالص عاید په ډول ترلاســه

کيږي، خو د کاريز د لوی کروندي څخه ۱۸۳۰۵۱ افغانی خالص عوايد ترلاسه کيږي، د قلعه بُست کلي د هري لوی کروندي څخه پر في جريب څمکه باندي ۲۹۷۱۴ افغانی د خالص عايد په ډول ترلاسه کيږي او د کاريز د لوی کروندي د في جريب څمکي څخه ۴۵۷۵۰ افغانی د خالص عايد په ډول ترلاسه کوي، چي د قلعه بُست په پرتله زيات دی.

**منبع: د ساحي څخه راټول سوي معلومات**




| | فی جریب خالص عواید | فی جریب تولید سوی مقدار | خالص عواید | لګښت | مجموعه عواید | تولید سوی مقدار |
|---|---|---|---|---|---|---|
| قلعه بست | ۲۹۷۱۴ | ۱۶۶۱ | ۱۷۸۲۸۵ | ۲۴۰۲۱۵ | ۴۱۸۵۰۰ | ۹۹۶۴ |
| کاریز | ۴۵۷۵۰ | ۲۱۰۸ | ۱۸۳۰۵۱ | ۲۰۵۸۷۵ | ۳۸۸۹۲۶ | ۹۴۸۶ |

## پايله

د اقتصـادي تحليل په نتيجه کي د څېړني پايلي وښـودل چي د قلعه بُست د کوچنی کروند ګرو د يوه فصل د انګورو حاصلات د کاريز په نسـبت زيات دي. د کوچنی کروند ګرو د خرڅلاو د عوايدو د پرتلي په نتيجه کي په ډاګه سـوه چي د کاريز د کروندګرو مجموعي عوايد د قلعه بُست د کروندګرو په پرتله زيات دي، د قلعه بُست کلي د کوچنی کروندګرو لګښت د کاريز په نسبت زيات دی. د کاريز کلي د کوچنی کروندي کروندګر د قلعه بُسـت په پرتله زيات خالص عوايد ترلاسـه کوي. دغه ډول د کـاريز کلي د کوچنی کرونـدي کرونـدګرو د في جريب خالص عوايد د قلعه بُسـت په پرتله زيات دي. د ميانه کروندو د اقتصـادي تحليل او پرتلي په نتيجه کي داسي پايله لاسـته راغلي ده، چي د قلعه بُسـت د ميانه کروندو د يوه فصـل د انګورو حاصـلات د کاريز په نسبت زيات دي. د ميانه کروندو د خرڅلاو د عوايدو د پرتلي په نتيجه کي په ډاګه سوه چي د کاريز د کروند ګرو مجموعي عوايد د قلعه بُست د کروندګرو په پرتله زيات دي. دغه ډول د قلعه بُست کلي د ميانه کروندګرو لګښـت د کاريز په نسـبت زيات دی. د کاريز کلي ميانه کروندګر د قلعه بُست په پرتله کم خالص عوايد ترلاسه کوي او د کاريز کلي د ميانه کروندګرو د في جريب خالص عوايد د قلعه بُسـت په پرتله کم دي. د لويو کروندو د اقتصــادي تحليل او پرتلي په نتيجه کي داسي پايلي لاسـته راغلي چي د کاريز د لويو کروندو د يوه فصـل د انګورو حاصـلات د قلعه بُسـت په نسبت کم دي. د لويو کروندو د خرڅلاو د عوايدو د پرتلي په نتيجه کي په ډاګه سـوه چي د کاريز د کروندګرو مجموعي عوايد د قلعه بُسـت د کروندګرو په پرتله کم دي، دغه ډول د قلعه بُست کلي د لويو کروندګرو لګښت د کاريز په نسبت زيات دی. د کاريز کلي لوی کروندګر د قلعه بُست په پرتله کم خالص عوايد ترلاسـه کوي، خو د قلعه بُسـت کلي د لويو کروندګرو د في جريب خالص عوايد د کاريز په پرتله کم دي. په عموم کي د څېړني څخه داسي پايلي لاسـته راغلي ده چي د قلعه بُسـت په کلي کي د انګورو توليد د کاريز د کلي په نسـبت زيات دی او همدارنګه د قلعه بُسـت کروندګرو د کاريز د کروندګرو په پرتله د انګورو د توليد څخه زيات عوايد ترلاسـه کوي. د بازار موندني د چينلونو د تحليل په نتيجه کي د څېړني څخه داسي پايلي لاسـته راغلي چي د انګورو د خرڅلاو لپاره د بازار تر ټولو مهم چينل (توليدونکي-عمده پلورونکي-پرچون پلورونکي- مصرف کوونکي) دی. د څېړنو پايلو وښودل چي د کاريز او قلعه بُسـت کروندګر د انګورو په توليد کي د يو لړ عمده سـتونزو او چيلنجونو سره مخ دي، چي ځيني سـتونزي يې پرلپسي–وچکالي، د ترانسـپورتي لارو خرابوالی، د زيرمه کولو آسـانتياو ته نه لاسرسـی، بې کيفيته کيمياوي کود، ګران روز مزد، په کرنيزه برخه کي د کروندګرو عدم پوهاوی او طبيعي آفتونه دي.

## اخځليکونه

1. Alagumani. (2018). Economic analysis of grape production in Tamil Nadu. *J. Inno. AGRI*.
2. Chavan. (2024). Economic analysis of grape production in Nashik District of Maharashtra. *The Pharma Innovation Journal*, 30-33.
3. Deepak. (2007). Assessing Economics of Grape Cultivation in India. *Munich Personal RePEc Archive*, 1-15.
4. Deus. (2022). Analysis of Profit Efficeincy of Grape Production: A Case Of Smallholder Grape Growers in Dodoma, Tanzania. *Huria Journal*, 1-23.
5. Ghsemi. (2010). Economic Analysis Yaghoti Grape Production in Sistan Area. *Trakia Journal of Sceinces*, 35-38.

15. Patil, D., Chavan, Amrut D (2023). Economic Analysis of Grape Production: A case Study of Savalaj And Manerajuri Villages of Tasgian Block In Sangli District. *Epra Intarnational Jounal of Agriculture and Rural Economic Research (ARER) - Peer-Reviewed Journal, 11(1),*2321-7847. Khan, D., Fahad, S., Naushad, M., Fhah, S. (2020). Grape Production Critical Review In The World. *Ssrn Elactronic Journal, 5(*4*).* 1144-1277.
16. Khasrow, A. (2015). Grapes Production In Afghanistan. This Article Is Published Afghanistan. *Journal of Econometrics*. (6) 21-37.
17. . Alagumani,T., Anjugam,M., (2020). Economic Analysis Of Grape in Production in tamil Nadu. 5(1) 13-18.
18. Ghasemi, M., Reza Naroui Rad, S.(2010). Economic Analysis Yaghoti Ghoti Grape Production In Sistan Area. *Trakia Journal of Sciences*, 8(3).1313-7050.
19. Chavan, Jp., Kapadnis, Vd., And Shirsat.(2023). Economic Analysis of Marketing of Grape In Nashik District of Maharashtra state. *The Pharma Innovation Journal*,12(10).1701-1704.
20. Kocturk,Murat.And sait.,(2009). Enargy And Cost Analysis of Sultane Grape Growing :ACase Study of Manisa wast Turkey. *African Journal of Agricultural Research,* 4(10).938-943.
21. Garcia,J., Martinez Cutillas,A., Romero, P.,(2011). Financial Analysis of Wina Grape Prouction Using Regulated Defict Irrigation And Partial Root Zoon Drying strategies. *The Pharma Innovation Journal*, 30(10) 179-188.
22. Patil, Rdigvijay., Chavan, M amarut.(2023). Economic Analysis of Grape Prouduction Acase study of Savalaj And Manerajuri Villages of Tasgo Block Sangli District. Epra Intarnational Journal Agriculture And Rural Economic Reserch.11(1) 2321-7847.
23. https:// www. Facebook. com/ Verywell.(2019). Are Grapes Nutritious? Verywell Fit.

6. KHAIR, S. M. (2009). PROFITABILITY ANALYSIS OF GTRAPE ORCHARDS IN PISHIN. *Sarhad J. Agric*, 103-111.
7. Manjappa. (2023). Analusis the productiviy of Grape cultivation in India. *International Journal for Reaserch Trends and Innovation*, 975-977.
8. Maponya. (2020). Economic Efficiency of Table grape production in waterberg and sekhukhune District , Limpopo Province, south Africa. 1-67.
9. Mhetre. (2020). Economic Analysis of Grape Production in Sanli District of Maharashtra. *International Journal of Current Microbiology and Applied Sciences*, 1439-1444.
10. Patil, D. R. (2023). ECONOMIC ANALYSIS OF GRAPE PRODUCTION: A CASE STUDY OF SAVALAJ AND MANERAJURI VILLAGES OF TASGOAN BLOCK IN SANGLI DISTRICT. *EPRA Intrenational journal of Agricultural and Rural Economic Research*.
11. Zwaid. (2021). ECONOMIC ANALYSIS OF GRAPE PRODUCTION FARMS IN SALAH EL-DIN GOVERNORATE FOR THE 2019 (BALAD DISTRICT). *Mesopotamia Journal of Agriculture*, 1-10.
12. Ahmad, A., Kumar, D., Majadidi, N., Rafi, B., and Wasifhy, M. K. (2017). Intrgrated Farming Systm For Helmand Province, Afghanistan. *International Journal of Advanced Education and Research, 2*(5) 62-67.
13. Kaushik, N. Manju, V. Barmanray, A. (2023). Effect of Grape Syrup As Areplacement For Sugar In Various Beverges. *International Journal Of Science Academic Research*, *4*(1), 4971-4975.
14. . Keerthana, K . Rohini, A. Murugananthi And R. Vasanthi.(2021). An Economic Analysis On Production of Grapes In Theni district of Tamilnadu. (*Asian Journal of Agricultural Extension , Economic Siciolgy*. 3911),2320-7027.

# A Comparative Study of Grape Production in two Villages of Kariz and Qala-E-Bost of Lashkergah District: An Economic Analysis (1403 Year)

Naqibullah Mujadidi[1*], Arsalan Watandar[2] and Baryalai Rafi[3]
[1]Associate Professor, Department of Horticulture, Faculty of Plant Science, Afghanistan National Agricultural Sciences and Technology University (ANASTU)
[2]Lecturer and Dean of Faculty of Economics, Bost University
[3]Teaching Assistant, Horticulture Department, Agriculture Faculty, Helmand University
Corresponding Author Email: mujadidi86@gmail.com

## Abstract

This research was conducted in two villages of Lashkergah district, Kariz and Qala-e-Bost under the title of ‘‘A Comparative Study of Grape Production in two Villages of Kariz and Qala-E-Bost of Lashkergah District: An Economic Analysis’’ in (1403) year. The major objectives of this research was to find out the production and expense of grape, and to determine the gross and net revenue of grape production as well as the comparison of both villages. Kariz and Qalai Bost villages were selected purposively for the research and (60) respondents in these villages were also selected randomly in order to get the initial information from these respondents through interview and questioner method. We categorized their farming into three categories. (Small 1-2 Jeribs), (medium 2-4 Jeribs), and (large 4-6 Jeribs) we had chosen out (20) respondents for each farming category. In general, the results from the research shows that in Qala-e-Bost Village, the growers averagely produce (6509) kilo grams’ grape per cultivation. Averagely their collective income is (272048) AFS, and averagely each grower's expense is (138846) AFS. Each and every grower has net income of (133201) AFS from grape selling. averagely per one Jerib of farmland the growers get (2425) kilo grams of grape, hence, averagely per Jerib they have pure income of (67701) AFS. in Kariz Village, different categories of growers averagely receive (6075) kilo grams of grape per cultivation and collected income (251967) AFS, and their producing expense equals to (205875) AFS. And every grower has net income of (183051) AFS. In Kariz village each grower gets (1950) kilo grams of grape per Jerib. And their net income per Jerib equals to (45750) AFS. In general, the result of this research shows that Qala-e-Bost Village growers produce more grape than Kariz village growers do, and as well framers of Qala-e-Bost village receive more income than Kariz.

**Keywords:** Grape Production, Gross returns, Net returns and Comparison

# BOST

Academic & Research National Journal

Volume: 3

Issue: 2

Year: 2025